د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

جمعه ۰۱ شوال ۱۴۳۹هـ | ۱۵-۰٦-۲۰۱۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰٦

مطبوعاتي اعلاميه

# نېکمرغه فطر عيد دې له کابله تر بيت المقدس پورې د رسول الله ﷺ ټول امت ته مبارک وي!

د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د نېکمرغه فطر عيد د رارسېدو له امله ټول اسلامي امت په ځانګړې توګه د افغانستان مسلمان ولس ته د زړه له کومي مبارکي وايي او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړي ترڅو زموږ او ستاسو صيام، قيام، طاعات او عبادات په خپل دربار کې قبول کړي.

د رمضان د مياشتې اصلي پيغام يوازې له خوراک او څښاک څخه په ډډه کولو کې نه خلاصه کيږي؛ بلکې د هغې مفهوم د ژوند ټولې برخې رانغاړي. په اسلامي نړۍ کې خلک د سهار له آذان څخه تر ماښامه روژه نيسي، مګر متاسفانه هغوی نشو کولای چې له هغو افکارو او نظامونو څخه روژه ونيسي چې د الله سبحانه وتعالی له شريعت سره په ټکر کې دي. مسلمانانو په دغه مياشت کې له يوې خوا روژه نيولې وه، مګر له بل پلوه وربانديې غربي افکار، احساسات او نظامونه پلې کېدل او تر دې ډېر بد خو لا دا دي چې د عيد په نېکمرغه شپو ورځو کې – چې د صميميت او خوښۍ شپې ورځې دي- د هغوی تر منځ قومي، ژبني، مذهبي، سمتي او سيمه ييز ړانده تعصبونه را پارول کيږي، چې د کورنيو اختلافاتو او د هغوی د ځواک او يووالي د له منځه تلو سبب کيږي.

ځومره به ښه وي چې د رمضان مياشتې اصلي پيغام له رمضان پرته هم پلی کړو او د همېش لپاره له قومپالنې، سمت پالنې، ځان غوښتنې، له امريکا او غرب څخه د مرستې غوښتنې، د ډيموکراسۍ او آزاد بازار له پلي کېدنې څخه هم روژه ونيسو. الحقّ چې د مؤمنانو ريښتينی عيد هغه وخت دی چې له دغو پوچو مفکورو سره مخه ښه وکړي او د خپلو اعمالو، افکارو او سياسي نظم لپاره يوازينی معيار د اسلام ژوند ښېونکي ارزښتونه وټاکي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**